# د پښتو لومړے تفسير افضليه او د هغه نيمګړے چاپ

# The Half Published Firstever Pashto Tafseeri Afzaliya (of Pashto Academy)

Abdul Karim Bryalai*

**Abstract**

Pashto Academy has the distinction to have a numbers of precious and valuable manuscripts. One of these is Tafseer-e- Afzalia by Maulana Rukun Ud Din Khazar Khanavi or Mosa Zai written in ١٧٥٦-٦٠. This Tafseer has been translated from Persian to Pashto on the request of Nawab Afzal Ud Dula Bahadar Sardar Jang. This tafseer was published due to the efforts of Saeed Khan, grandson of Maulana Rukun Ud Din secretary to the then Chief Minister Aftab Ahmed Khan Sherpo and published by Bashir Ahmed Nashiraani Quran limited in ١٩٩٠ but the date of publication is has not been mentioned. Unfortunately this teafseer has been published without any evaluation, research and analysis. As a result it has a lot of mistakes which as a Muslim we cannot afford. This paper is an attempt to highlight those mistakes and to give suggestions for the correction of those mistakes

د اکېډيمي له قيمتي اثاثې څخه د قرآن مجيد يو تفسير د مولانا رکن الدين د هزار خواني يا د موسٰی زئ له خوا د پښتو تفسير د افضليه په نامه کال ۱۱۷۳هـ ۷۰ ـ ۱۷۵۹ء کښې د نواب افضل الدوله بهادر سردار جنګ په غوښتنه له فارسي ژبې څخه ژباړل شوے ؤ ـ چې مخطوطه ئې د پښتو اکېډيمي په کتابتون کښې پرته ده ـ نواب الدوله د احمد شاه

* Renowned Pashto Scholar and Retired deputy commissioner, Quetta, Baluchistan

بابا سره د پاني پت په غزا کښې هم شریک کړے ؤ خو د پښتو او پښتنو دپاره ئې دا کار لازمي بللے ؤ چې د علم او دین رڼا ور ورسېږي.

د تفسیر افضلیه لیکونکے مولانا رکن الدین رحمة الله ؤ چې د هغوي خپلوان د موسیٰ زئ او هزار خوائ سره نزدې اوسېږي. په کال ۱۹۹۰ء کښې د هغه وخت وزیر اعلیٰ محترم افتاب احمد خان شېرپاؤ په خصوصي مرسته ددې تفسیر د خپرولو دپاره ښهٔ کافي بسپڼ هم ورکړل شوے ؤ. ښاغلے سعید خان د شېرپاؤ صاحب سیکرټري د مولانا رکن الدین په لمسو کښې ؤ چې د نامتو قاضي جسټس شاکرالله جان مروم زوئے ؤ. د تفسیر دا نسخه د لاهور یوې ادارې ناشرانِ قران لمیټډ له خوا په کال ۱۹۹۰ء بشیر احمد قریشي چاپ کړه او د چاپ تعداد ئې هم نهٔ دے ښودلے[۱].

کله چې په جولائي ۱۹۹۰ء کښې د پښتو لیک لار ټاکلو یو عالمي کانفرنس په باړه ګلۍ کښې شوے ؤ نو ښاغلے پروفېسر محمد نواز طائر ټولو برخه والو لیکوالو ته یوه یوه نسخه وړاندې کړې وه. کومه نسخه چې زما په برخه شوه نو هغه وخت د کتلو وروسته یو څهٔ تحفظات مې زړهٔ کښې پېدا شول څکه چې نسخه بېخي د لوست نهٔ وه او نهٔ چا محقق عالم ورباندې خېړنه کړې وه. سږ کال په روژه مبارکه کښې ددې ټوله تفسیر د لوست موقع په لاس راغله او غه پخواني تحفظات نور هم ژور شو او ما خپل ملګري پروفېسر حافظ حمت نیازي سره ددې تفسیر په ناوړه چاپ خبرې وکړې.

د دومره اوږده تمهید وروسته به زما لوستونکي ما نهٔ ګرموي چې مونږ د خپل تهذیب، تاریخ او ذمه واریو سره څومره بې انصافي او شپیان کړې ده. زما ګمان دے چې دا تفسیر تر اوسه پورې هېڅ یو پښتانهٔ په غور لوستلے نهٔ دے. لېکن دا ګمان غلط هم کېدے شي. عالمانو به ضرور لوستے وي، خو چې هغه دلوست نهٔ ؤ او نهٔ چا ترې فائده اخستلې شوه نو بیا ګیله د چا څخه کول پکار ده.

ښاغلے شیرپاؤ اوس هم حیات دے او زوئے ئې صوبائي وزیر دے ـ هغه سکرټري سعید الله جان دا ګڼله چې د خپل نیکۀ لیک ئې تر خلقو پورې ورسولے ـ لېکن د پښتو اکېډیمي د هغه وخت ډائرېکټر د یوه ښۀ عالم پوهـ شخه په دې کتاب باندې ولې څېړنه ونۀ کړه ـ او که هغه د عربي فاضل نۀ وو خو د بل پوهـ عالم شخه لکه مولانا عبدالقدوس قاسمي چې هغه وخت ژوندے ؤ د هغه شخه مشوره او مرسته اخستلې شوه ـ مولانا قاصي د خېرالبیان په نسخه باندې اووۀ کاله تحقیق کړے ؤ ـ خېر یوسې دا تفسیر چاپ شو او اغلباً پنځه دېرش لکه روپۍ بشیر احمد قریشي یا نورو لګولي دي ـ چې ذمه واري ئې صوبائي محکمه کلچر په غاړه درلوده ـ ددې نسخې په حقله څو د څېړنې نکتې را ولاړېږي ـ

١. د تفسیر افضلیه د قرآن مجید د نسخې هېڅ څېړنه نۀ ده شوې چې د ایډټ کېدلو له اصولو سره مخالف کار دے ـ
٢. د نسخې پښتو رسم الخط جاج اخستل لازمي کار ؤ ـ که څۀ هم یو پر مختللے شکل لري خو د ځینو تورو د لیک دود په وجه په معنا کښې ډېر ستونزې را ولاړې کړې دي ـ
٣. د قرآن د آیتونو عربي رسم الخط هم د مروجه لیک دود سره ډېر مخالف دے چې لوستونکي د نن زمانې ددې صحیح تلاوت نۀ شي کولے ـ
٤. یوه اهمه نکته دا ده چې د کوم تفسیر شخه ژباړه شوې ده ـ
٥. د تفسیر لومړے صفحه په شعر کښې ددې کتاب لیکلو اسباب او نوم افضلیه ښائي لېکن د لیکوال نوم نشته او د افضلیه په تصویري صفحه Facsienile کښې شته خو په چاپي کښې نشته ـ
٦. نسخه په هره صفحه لاندې رکاب ( لیکلې شوي توري د راتلونکې صفحې ) لري خو چاپونکي ورته د هندسو شکل په هره صفحه لوړ له یو څه ۱۵۲۸ پورې ورکړي دي ـ

۷. چاپونکي څخه دا بې مرمتي شوې ده چې لس ځايه په صفحو کښې بدلون راغلے دے.

۸. د ليکونکي ابتدائيه او يوه وړوکې د قرأت رساله د آفسټ په ذريعه چاپ کړې نۀ ده ، چې په اصل نسخه کښې لومړے راځي او چاپونکي وروسته ورسره ګنډلې ده.

۹. د ليک دود په لړ کښې ځينې داسې توري ډېر شته چې قرأت ئې سم نۀ شي کېدلے او د قرآن په ترجمه او تفسير کښې ئې د معنا د بدلون ستونزه راولاړه کړې ده ــ چې دلته د يوې نکتې مثال د مروجه تفسيرونو په رڼا کښې جاج اخستل کېږي.

د سورة بقره د **۵۷** آيت ژباړه په پښتو کښې داسې ليکلې ده.

"وَ ظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ وَ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَ السَّلْوٰى ط"

ژباړه :- او ياد کړئ هغه وخت چې سورى کړى وه په تاسو باندې وريځې او نازل کړوه مونږ په تاسو ترن جبين او مرغ پشکل د سړي[۲] ط

دلته يو توري ( مرغ پشکل د سړي ) داسې ژباړه ده چې په هېڅ تفسير کښې ددې شکل د سړي ذکر نۀ دے راغلے. مونږ که فرض کړو چې دا د ليک دود د قرأت غلطي وي نو بيا هغه تورے ( سړے ) ولوستل شي نو هم د قرآن د ژباړو او ټولو تفسيرونو څخه د مړي روايت يو ځائے نشته. ددې تفسير سره حاشيه داسې ليکلې شوې ده. ( د وريځې چې له کرمې د نمر زهير نشي او د هغه له پاره چې بني اسرائيل په ځنګل کښې سرګردان شوې او د دوئي څخه خم او سائبان نوه )

دوېمه حاشيه داسې ده ( دغه مرغ دي پطرف د يمن کښې له چنړچړ ډېر لوے يا اوله کوتر وړوکے په تفسير منير کښې دي راوړي چې هغه مرغون پر ځانزودونو کيناسته به او رنګارنګ اوازون ښۀ او زړۀ نه وړونکي به ظاهر ده پس باد پدرے والوت او بړي د دوي توشو نور مرغون وو پاکيزه او ديت او بي رک او

بي پښو او بې هډوکي بني اسرائيل به اخسته دوي له ترن جبين سره ګډول او خوړل به ئې[۳] .

دلته د تفسير منير حواله ورکوي چې د چنړچړو لوئې او ترکوتره وړوکې او بله وضاحت کوي چې بې رګ او بې پښو او بې هډوکي وو . له دې د مفسر د ذهن دا ترشح کېږي چې هغه مړۀ وو ځکه ئې هغه ''مړي'' ليکلے دے . يوه ژوه مغالطه د ''مړے'' او سړي '' منځ ته راغلې ده . که مونږ ګمان وکړو چې دا مړے ليکل شوے دے او سړے ليکل د ليک دود د قرأت غلطي ده . څو ژباړونکے ( په شکل د مړي يا په شکل د سړي ) تورے هم د مروجه ژباړو او تفسيرونو څخه مختلف دے . پخواني ټولو مفسرينو من اسلوٰی ته ترنجبين او طيرالسماني ليکلے دے .

تفسير جلالين ليکي '' هما الترنجبين والطيرالمساني '' ليکي[۴] . محشي پر مخ ليکي : چې دا مرغه ته په فارسي ( ببود ) وائي چې د کوټي او کندهار په پښتو لهجه کښې ( کرک ) وائي . او ترنجبين تورے د عربي ( ترانکبين ) څخه معرب شوے ګڼي . ''من'' ته دغسې په عربي صمح[۵] وائي . چې هغه کونډورے دے چې محشي ئې په ترکستان کښې زيات پېدا کېدل بللے دے . او د من په باب ليکي چې دا به د شپې له اسمان څخه د واؤرې په دود رالوېدله او هر چا به کاسه ځيني ډکوله . د مفسرينو په دې باره کښې جلا توجيهات کړي دي . دا ناوه يا وادي ''تپه'' وه . د شات په ډول وه . چې اوچه به شوه بيا به زاولے يا کونډورے ځيني جوړ شو[۶] .

بخاري اومسلم په يوه حديث کښې دا يوخامېرې "MASHROOM"بللے دے[۷] .

احسن التفاسير ليکلي دي چې دا د ډوډۍ په دود دوه وخته ورکول کېدۀ او خامېرے هم کرل نۀ غواړي[۸] . فتح القدير سلوٰی ته بټېر يا کرک يا مرغۍ وئيلې ده[۹] . د سعودي حکومت د پښتو تفسير د شيخ الهند او مولانا شبير احمد عثماني د تفسير څخه مولانا عبيدالله پښتو اسانه ټکي ليکلي دي .

هغوي (من) ته نبات وئيلي دي او سلوىٰ ته مرځان يا مرزان توري ليکلي او دې نبات ته ئې (د ځوزو ګوړي) توري ليکلي دي[۱۰].

د انګرېزي ژبې عالم مولانا عبدالله يوسف علي په کال ۱۹۳۴ء (۱۳۵۲هـ) کښې د قرآن تفسير او ژباړه په انګرېزي ژبه ليکلې دے. دلته د (من) عبراني ټکي منهو "MAN-HU" او عربي کښې "Mahuwa" دے او د تورات د خروج د باب "Exodus" کښې دا ليکلي دي.

A Small thing as samall as hoor frost on the ground .

ژباړه :- يو وړوکے شے دومره کوشني لکه د واؤرې بخري يا دژلي په مځکه[۱۱])

رشتيا خبره دا ده چې ما د لندن چاپ کينګ بائبل چاپ لندن ۱۹۵۵ء لندن وکتلو خونه مو ومونده. کېدے شي چې د لوستل تجربه مې نۀ وي[۱۲].

مولانا يوسف دا هم ليکي چې دا (منا) اوس هم په صحرا کښې د سينا پېدا کېږي. چې د کونډورو او زاولو غوندې دے. يو بوټے شته چې په هغه باندې چاړۀ تېره کړي. هغه سپينې اوبۀ را وباسي او بيا هغه کونډورے ځينې جوړ شي او سلوىٰ هغه کرکان دے چې بحرهند يا منځوميانه سمندر "Mediferranean" څخه اوس هم په سيلو راوځي او په مشرقي لورے ئې سينا ته شړي. په لومړي عالمي جنګ کښې د هند فوجيانو دا سيلونه ليدلي دي[۱۳].

هسې خو ډېر تفسيرونه موجود دي چې د ټولو مفهوم سره نزدې دے لږ او ډېر د تعبير اختلاف شته. ما د خپل دور د يو لوئے عالم علامه سيد علاؤ الدين آغا الهامي څخه مرسته وغوښتله چې يو لوئے شاعر هم او له کوټې څخه ئې خپل پښتو ديوان " د زړۀ تسکين " چاپ کړے دے . ددې ديوان لوئے خصوصيت دادے چې د عربي صنايع او بدايع د عنوان سره خپلې ټولې غزلې ترتيب په الفبا باندې مدون کړي دي او دوه شعرونه د من و سلوىٰ په حقله داسې دي :-

الهامي له خدايه من و سلوىٰ غواړي
په بدله کښې د اصبل او کراث

د وصـــال مـــن و ســـلوٰی رابانـــدې بنـــد شـــو
راکـــــوي د بېلتانــــــهٔ پیــــاز و بــــــانجڼ[۱۴]

د هغوي وېنا ده چې سلوٰی کرکانو ته وائي او هغه به په زمکه پرېوتل او بني اسرائيلو به حلال کړل. نو ځکه د ( د مرې په شکل ) يا د ( سرې په شکل ) تاويل غلط دے. او هېڅ تفسير دا يادونه نهٔ ده کړې.

يو روايت د حياة الحيوان دا هم شته چې هلته سلوٰی هغه کرک يا مرز ته وئيل شوي دي[۱۵] . يو روايت دا هم دے چې دا مرغان به کباب شوي راولوېدل او دوي به ټولول. مولانا يوسف علي په خپل انگرېزي تفسير کښې يو عجبه په نوي انداز يوه خبره ليکلې ده چې اوس هم د بحر هند په هغه سيمه کښې په داسې موسم کښې له سمندر څخه دا ډول کرکان سيلونه راځي. اوس هغه سيمه د يهودوپه قبضه کښې ده او د وادي " تيه "په حقله څهٔ معلومات نشته.

زما د مفسر تفسير افضليه د سلوٰی هغه ليکلې ژباړه ( مرغ په شکل د سرې ) يا ( په شکل د مرې ) عقيده له ډېره وخته موجوده وه چې ما د ليک دود سوب گڼلې ، کله چې علامه سيد علاء الدين الهامي ته دا مسئله د مذاکرې په دود وړاندې شوه نو هغوئي د خپل علمي استعداد لاندې زما رهنمائي وکړه. د هغه وېنا وه چې مفسرين د تورو په ژباړه او تعبير کښې بدلون شته او ښکاره ده چې حوالې باوجود د غلطۍ امکان هم شته. خو هغه روايت چې دا سلوٰی به له اسمانه کباب شوي رالوېدل. په ذهن کښې کښېږدو نو د هغه توري د ( مرې ) ليک ته تقويت ورکوي. که چيري د بل مفسر او محشي لکه مولوي سعدالله قندهاري د جلالين په حاشيه کښې ليکي. ( وتبعث الجنوب عليهم السمانى فيذبح الرجل منه ما يكفيه و قيل ان الله تعالٰى قدر الريح على ان يذبح السلوٰى و يبعد عنهم الريش وما يكون فى بطونهم من الاذى والشمس تجعلها مشوى فاتى عندهم مهيأ )[۱۶]

ژباړه :- ( او په دوي به کرکان ( مړزان) را اوربدل نو سرېو به د ضرورت مطابق حلال کړل او ځيني وائي چې خدائے تعالٰی هوا ته حکم ورکړے ؤ چې کرکان (مړزان) حلال کړي او له دوي څخه بنې صفا کړي او هر څۀ ئې په نسونو کښې کثافت ؤ هغه لري کړي او لمر به هغه کباب کړي او دوي به تيار يا کباب شوي راغے ) .

کدا ( من ) به د واؤړې غوندې اوربدلې او سلوٰی به کباب شوي راغورځېدلي لېکن په نورو تفسيرونو کښې فتح القدير وائي چې دوي به حلال کړي وو . ددې تعبير سره هغه توري د ( مړي ) په شکل زيات قرين قياس دے .لېکن کله چې هغه (سړي) لوستل کېږي نو څوک داسې ګمان نۀ شي کولے چې مړز يا کرک دي د سړي يا انسان په شکل کښې راولوېږي .دا څرګنده شوه چې د ليک دود د قرآن په ځينو تورو معنا او تعبير په بنۀ ډول څرګند شوے نۀ دے او دا لومړے قصور د چاپ دے.

دوېم لوئے اعتراض او سخته غلطي دا شوې ده چې قرآن مجيد د هغې نسخې د آفسټ چاپولو سره نه ، لس ځايونه صفحې غلطې شوي دي او د قرآن د مقدس آيتونه لس ځايه بې ترتيبه شوي دي چې لويه کوتاهي ، مفضي د ګناه "Blasphamy"او د حرمت قانون ته دعوت ورکول دي .ددې ذمه دار لومړے طابع بشير احمد قريشي او دوېم د هغه وخت ډائرېکټر پروفېسر محمد نواز طائر او درېم د مولانا رکن الدين لمسے سعيدالله جان دي چې ددې مداوي او د غلطۍ ورکولو ورته اوس موقع په ژوند کښې شته .دا خبر زۀ په ډېر اعتماد کوم چې په تېر ديرشو کلونو د قرآن په کروړونو کاپي چاپ شوي دي خو په يوه کښې هم داسې غلطي نۀ ده راغلې .د قرآن د صفحو د بې ترتيبي نمونه په دې ډول ده.

| صفحه | وروسته | صفحه | لیک ده |
|---|---|---|---|
| ۸۴۲ | // | ۸۴۷ | // |
| ۸۴۸ | // | ۸۴۵ | // |
| ۸۴۶ | // | ۸۵۱ | // |
| ۸۵۲ | // | ۸۴۹ | // |
| ۸۵۰ | // | ۸۵۵ | // |
| ۸۵۶ | // | ۸۵۳ | // |
| ۸۵۴ | // | ۸۵۷ | // |
| ۸۴۴ | // | ۸۴۱ | // |
| ۸۴۰ | // | ۸۴۴ | //[۱۷] |

دریم لوے اعتراض دادے چې د قرآن مجید ددې نسخې رسم الخط هم زوړ دې چې عام اولس او لوستونکي په قرأت کښې غلطي کولے شي ـ د عربي د قاعدې مطابق چې د (ي) مخ کښې زور یا فتحه راشي یو هغه په الف مده سره وئیل کېږي ـ لکه متوفٰی ، مأوٰی او داسې نور ـ کله چې (ي) په آخر کښې د توري راشي بیا لیکل لازمي دے او کله چې په منځ کښې راشي نو هم د دوؤ ټکو سره لیکل کېږي ـ لېکن د اوسني رسم الخط د توري منځ کښې (ي) نهٔ لیکل کېږي ـ په دې نسخه کښې د آیت دوه توري داسې لیکل شوي دي ـ اِنَ اَکرَمَکُمْ عِنْدَاللہ اَتْقٰکُمْ[۱۸] ـ لیکن په اوسني ټولو قرآنونو کښې دا توري داسې لیکل کېږي ـ (اَتْقٰکُمْ)[۱۹] کوم توري چې په دې نسخه کښې د پخواني رسم الخط مطابق دي هغه د نن ورځې قاري ته په قرأت کښې مشکل اچوي ـ

| صفحه | تورے |
|---|---|
| ۴۰۴ | موسَی |
| ۴۰۵ | والسّلوَی |
| ۴۱۳ | مُرسَیهَا ـ عَسَی |
| ۴۱۵ | اتَیهَا |
| ۴۲۳ | رَمَی |
| ۴۱۷ | یوحَی (په دې مد ورکړے شوے دے) |
| ۴۸۹ | یَرَیکُمْ |
| ۵۳۳ | نَرَی |
| ۵۳۹ | نَادَی |
| ۵۵۵ | قُرَیٰ |
| ۷۵۹ | اَحْصَیٰهم (په دې توري د مد نخښه شته) |
| ۱۲۰۷ | اَصْفَیکُم[۲۰] |

ددې نسخې مالک او طابق ددې ذمه واري په غاړه لري چې د صحیح تورو د قرآن د چاپولو کار شوے وائي ـ اوس مشکل دا دے چې نۀ څوک هغه عربي توري سم لوستلے شي او د تفسیر املا خو داسې ګنجلکه ده چې لیکوال ئې هم نشي لوستلے ـ ښخي د ویښتۀ په دود په نري قلم لیکل شوې ده ـ چې د مفسر کمال دے خو د حاشیې علامتونه او نخښې ښخي نۀ پېژندونکي دي او غېر مرتب دے ـ

مولانا رکن الدین د قرأت یوه رساله درې زره شعرونو باندې مشتمل لیکلې وه او دلته ئې هغه لنډه کړې ده چې د قرأت بنیادي مسائل په پښتو شعر کښې دي ـ ددې تفسیر اصل محرک محمد افضل خان یوسفزئ منډن ، ځلوزي ، عمر خېل ، نظرخېل ؤ چې ناجهي یو لوئے رکن ؤ او په افضل الدوله بیا دا سردار جنګ سره مشهور ؤ ـ

تفسیر افضلیه که څۀ هم د یوه فارسي څخه ژباړل شوے دے خو په بشپړ توګه دې ته لومړنے حېثیت ور په برخه دے. که څۀ ما د "خیرالبیان او محققینو جاج" څېړنه کښې بایزید روښان د پښتو لومړے مفسر بللے دے او د فارسي دوېم [۲۱] . لېکن دلته زیاته سهوه دا شوې ده چې دې لومړني بشپړه تفسیر سره ډېر زیاتوب وشو او هیچا ترې په سمه توګه استفاده ونۀ کړه. که سعید الله جان اوس هم څۀ همت وکړي او د شیر پاؤ صاحب د کورنۍ یو وزیر څخه پښتو اکېډیمۍ پېښور ته یو پنځه میلنه روپۍ ورمنظورې کړي او ډاکټر نصرالله جان وزیر صاحب دوؤ دریو عالمانو څخه مدد واخلي او د پښتو ژبې په دې غوره تفسیر باندې د څېړنې او ایډټ کولو په کار لاس پورې کړي نو دا به د پښتنو دپاره او د ټولو مسلمانانو دپاره خیر باقي کار وي او د یو لوئے عالم مولانا رکن الدین له دې تفسیر څخه به د ټولو دیني مدرسو شاګردان هم زده کړه وکړي.

ترکومه حده چې لومړے اتۀ نکتې ما یادې کړي دي نو هغه د څېړونکي او ایډټ کونکو سره تړون لري او د مولانا رکن الدین د ژوند ، مدرسۍ د موسیٰ زئ په حقله هم تحقیق وکړي. منشي ګوپال داسې په تاریخ پېښور کښې د موسیٰ زیو ددې کوهي چې حافظ محمد منیر جوړ کړے ؤ د هغه یادونه کړې ده [۲۲] . او کرنل هستنګر په کال ۱۸۷۸ء بندوبستي رپورټ کښې هم د موسیٰ زیو د حاجي میاں صاحب یادونه شته چې هغه د مولانا رکن الدین کشر ورور ؤ [۲۳] . په آخر کښې ددې مقالې لیکلو هم مقصد ستاسو سره شریکوم چې د پښتو ژبې قران تفسیر ته باید ډېره پاملرنه وشي او ددې پورتنیو غلطي ازاله وشي. حکومت صوبائي او وفاقي مخور شتمن وکړي د

میاں صاحب عزیزان د پښتو اکېډیمي سره بشپړه مالي مرسته وکړي چې د قرآن عظیم دا تفسیر د ښې څېړنې یو وار بیا چاپ شي او د هغو شوؤ غلطیو ازاله وشي ـ په دې لړ کښې د محترم شیرپاؤ د زوئے خصوصي پاملرنه غواړم چې د تېر وخت د غلطیو ازاله وکړي او خپل نوم د پښتو په خادمانو کښې حساب کړي ـ

# حوالې

۱ تفسیر افضلیه چاپي نسخه کال ۱۹۹۰ء ، ناشران قرآن ۱۳۸ اردو بازار لاهور

۲ تفسیر افضلیه د مولانا رکن الدین ، طبع لاهور ، ۱۹۹۰ء ، ص ۱۸

۳ همدغه

۴ کشف المحجوبین علی التفسیر جلالین ، د مولوي سعدالله قندهاري مطبع محمد بمبئ ، ۱۳۰۷هـ / ۱۸۸۹ء ، ص ۳۱

۵ قاموس الفرید د مولانا وحید الزمان کیرانوي صابري دارالکتب لاهور ، ص ۳۷۳

۶ اردو تفسیر د قرآن د مولانا محمد جوناګري ، شاه فهد کمپلکس ، مدینه منوره ، ۱۳۱۷هـ / ۱۹۹۸ء ، ص ۲۵

۷ بخاري شریف او مسلم شریف طبع لاهور.

۸ احسن التفاسیر لاهور طبع

۹ تفسیر فتح القدیر د ډلي چاپ

۱۰ د سعودي پښتو تفسیر د مولانا عبدالله شاه چاپ ۱۴۱۴هـ ، ص ۳۹

۱۱ The HOLY QURAN Test translation and commentary by Abdullah yousaf Ali State of Qatar- printed in Lahore P 31

۱۲ The HOLY Bibile (king) 1955 Landon

۱۳ The HOLY QURAN commentary by A. yousaf P 31

۱۴ د زړهٔ تسکین علامه سید علاوالدین آغا الهامي مکتبه الهامیه کوئټه ، ۲۰۰۲ء ، ص ۲۸۷ ـ ۲۹۲

۱۵ حیاة الحیوان عربي چاپ مصر ،

۱۶ کشف المجوبین علي اجلالین د مولوي سعید الله قندهاري ، بمبیٔ ، ۱۸۸۹ء ، ص ۳۱

۱۷ تفسیر افضلیه د مولانا رکن الدین ناشران قرآن اردو بازار لاهور ،

۱۸ همدغه ، ص ۱۲۷

۱۹ قرآن مجید تاج کمپني کراچي ، قرآن مجید مدینه منوره شاه فهد قرآن کمپلکس.

۲۰ تفسیر افضلیه ، ص ۱۲۷ او درج شوې د متن صفحې.

۲۱ خېر البیان او د محققینو د لیکونو جاج ، عبدالکریم بریالے ، ملا ظریف فاؤنډېشن کوئټه ، ۲۰۱۱ء ، ص ۱۹۲

۲۲ اریخ پشاور منشي ګوپال داس ګلوب پبلشرز اردو بازار لاهور.

۲۳ د تفسیر افضلیه پېش لفظ ( د قرآن په آخر کښې ) ص ۵۲۵